# د رمضان شان

پښتو




شیخ طریقت، امیر اهلسنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

# د رمضان شان

دعائے عطار: يارَبَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله " د رمضان شان " اولولي يا واوري، هغوئي د روژې د مياشتې قدردان جوړ کړې او ټول عمر په نيکو کښې د تيرولو توفيق ورنصيب کړې د ګناهونو نه ئې حفاظت اوفرمائې.اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاک نه وئيلو وبال

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په چا چې د روژې مياشت راغله او هغه روژې اُو نه نيولې، هغه کس شَقي (يعني بدبخته) دے. د چا چې خپل مور پلار [دواړه] يا يو وي او د هغه سره ئې ښه سلوک اُو نکړو، هغه هم شَقي (يعني بدبخته) دے او د چا په مخکښې چې زما ذِکر اوشي او هغه په ما باندې دُرُود اُو نه وئيلو، هغه هم شَقي (يعني بدبخته) دے.

(معجم اوسط، 62/2، حديث: 3871)

تُوْبُوْا اِلَى اللّٰه! اَسْتَغْفِرُاللّٰه!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دوه نوره

منقول دي چې الله پاک حضرت مُوسىٰ كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته اوفرمائيل چې ما د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته دوه نورهورکړي دي چې هغوئي د دوؤ تيَارو د ضرر (يعني نقصان) نه محفوظ شي.

مُوسیٰ کلیمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: یا الله پاکه! هغه دوه نوره کوم کوم دي؟ ارشاد اوفرمائیل شو: د روژې نُور او د قرآن نُور. حضرت مُوسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: دوه تیارې کومې دي؟ اوئې فرمائیل: یو د قبر او بله د قیامت. درۃالنّاصحین، ص9)

عاصیوں کی مغفرت کا لے کر آیا ہے پیام　　جُھوم جاؤ مجرمو! رمضاں مہِ غُفراں ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د روژې سره صحت میلاویږي

د اَمِیرُالْمُؤمِنِین مولائے کائنات، حضرت علیُّ المرتَضیٰ شیرِ خدا رَضِیَ اللهُ عَنْہُ نه روایت دے چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بے شکه الله پاک د بنـي اسرائیلو یو نبـي عَلَیْہِ السَّلَام ته وحي اوفرمائیله چې هغوئي خپل قوم ته خبر ورکړي چې کوم بنده زما د رضا د پاره یوه ورځ روژه اونیسي نو زه د هغه بدن ته صحت هم ورکووم او هغه ته به لوئ اجر هم ورکړم.　　(شعب الایمان، 412/3، حدیث: 3923)

دوجہاں کی نعمتیں ملتی ہیں روزہ دار کو　　جو نہیں رکھتاہے روزہ وہ بڑا نادان ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د روژې د شان په باره کښې د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 31 فرامین

(1) حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْہُ فرمائي چې نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شعبان په آخرئ ورځ بیان اوفرمائیلو: "اے خلقو! تاسو له د عظمت او د برکتونو میاشت راغله، هغه میاشت په کومه کښې چې یوه شپه (داسې هم ده کومه چې) د زرو میاشتو نه بهتر ده، د دې (مبارکې میاشتې) روژې الله پاک فرض کړې او د دې په شپو کښې قیام (یعني تراویح) تَطوع (یعني سنت) دي، څوک چې په دې

کښې د نیکۍ کار اوکړي نو داسې دي لکه چې په بله میاشت کښې فرض اوکړه او دې کښې چې چا فرض اوکړه نو داسې ده لکه چې نورو ورځو کښې ئې اویا فرض اوکړه. دا میاشت د صبر میاشت ده او د صبر ثواب جنت دے او دا میاشت د مُؤَاسات (يعني د غمخوارۍ او خير) ده او په دې میاشت کښې د مومِن رِزق زیاتولے شي. څوک چې په دې میاشت کښې روژه نیوونکي له روژه ماتے ورکړي، د هغه د ګناهونو د پاره بخښنه ده او د هغه غاړه به د اور نه آزاد کړے شي. او هغه روژه ماتې ورکوونکي ته به هغه همره ثواب میلاویږي څومره چې روژه نیوونکي ته میلاویږي او د هغه په اجر کښې به څه کمے نه کیږي. "مونږه عرض اوکړو: یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږه کښې هر ګس هغه څه بیا نه مومي په کومه چې د چا روژه ماته کړے شي. هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: الله پاک به دا ثواب هغه ګس ته ورکړي څوک چې یو ګوټ پےئ یا یوه کجوره یا په یو ګوټ اوبو د چا روژه ماته کړي او چا چې روژه نیوونکي ته په مړه خیټه خوراک ورکړو، هغه له به الله پاک زما د حوَض نه اوبه ورکړي چې هیڅ کله به هم تږے نه شي. تر دې پورې چې جنت ته به داخل شي. دا هغه میاشت ده د کومې اول (يعني وړومبۍ لس ورځې) رحمت دے او د دې اَوسَط (يعني مینځنۍ لس ورځې) مَغفِرت دے او آخِر (يعني آخرۍ لس ورځې) د دوزخ نه آزادي ده. څوک چې په دې میاشت کښې په خپل غلام تخفیف اوکړي (يعني لږ کار ترې اخلي) الله پاک به هغه اوبخښي او د دوزخ نه به ئې آزاد کړي په دې میاشت کښې څلور کارونه زیات کړئ. دې کښې دوه داسې دي چې د هغې په ذریعه به تاسو خپل ربّ راضي کړئ او د پاتې دوؤ نه تاسو بے نیازه نه ئې. هغه دوه کارونه د کومو په ذریعه چې به تاسو خپل ربّ راضي کړئ هغه دا دي: **(1)** د لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ګواهي ورکول **(2)** اِستِغفَار کول. او هغه دوه کارونه د کومو نه چې ستاسو غَنا (بے نیازي) نشته هغه دا دي: **(1)** د الله پاک نه جَنت غوښتل **(2)** د دوزخ نه د الله پاک پناه غوښتل.

(شعب الایمان، 305/3، حدیث: 3608، صحیح ابنِ خُزَیمه، 192/3، حدیث: 1887)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(2) كله چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك وړومبۍ شپه راشي نو د آسمانونو دروازې بيرته کړے شي او د آخرۍ شپې پورې نه بنديږي. کوم بنده چې د دې مبارکې مياشتې په يوه شپه کښې لمُونځ کوي نو الله پاک هغه له د هرې سجدې په بدله کښې 1500 نيکۍ ليکي او په جنت کښې د هغه د پاره د سرو ياقُوتو کور جوړوي. څوک چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك وړومبۍ روژه اونيسي نو د هغه تير شوي گناهونه معاف کړے کيږي، او د هغه د پاره د سحر نه تر ماښامه پورې 70 زره فرښتې د بخښنې دُعا غواړي. شپه او ورځ کښې چې کله هم هغه سجده کوي د هغه د هرې سجدې په بدله کښې هغه ته (په جنت کښې) يوه يوه داسې ونه ورکړے شي چې د هغې په سيوري کښې (په آس) سور 500 کاله پورې روان وي.

(شعب الايمان، 314/3، حديث: 3635 ملخصاً)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(3) كله چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك وړومبۍ شپه شي نو الله پاک خپل مخلوق ته نظر کوي او کله چې الله پاک يو بنده ته نظر اوکړي نو هغه له به چرې هم عذاب ورنکړي او هره ورځ لس لاکه د دوزخ نه آزادوي او کله چې يو کم ديرشمه شپه شي نو توله مياشت کښې چې څومره آزاد کړي وي د هغه تولو برابر په هغه يوه شپه کښې آزادوي. بيا چې کله د وړوکي اختر شپه راشي، فرښتې خوشحاليږي او الله پاک د خپل نُور خاص تجَلي فرمائي او فرښتو ته فرمائي: "اے د فرښتو ډلې! د هغه مزدور څه بدله ده چا چې کار پوره کړے وي؟" فرښتې عرض کوي "هغه ته دې پوره اجر ورکړے شي." الله پاک فرمائي: "زه تاسو گواه كووم چې ما دا ټول اوبخښل. (جمع الجوامع، 345/1، حديث: 2536)

عِصياں سے کبھی ہم نے کنارہ نہ کیا پَر تُو نے دِل آزُردہ ہمارا نہ کیا
ہم نے تو جہنّم کی بہت کی تجویز لیکن تِری رَحمت نے گوارا نہ کیا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(4) بے شکه جَنَّت د کال د شروع نه راروان کاله پورې د رَمَضَانُ المُبارَك د پاره ښائسته کولے کيږي او اوئې فرمائيل: د رَمَضَانُ المُبارَك په وړومبئ ورځ د جنت د ونو نه غټو غټو سترګو والا حورو باندې هوا چليږي او هغوئي عرض کوي: "اے پروردګاره! په خپلو بندګانو کښې داسې بندګان زمونږ خاوندان کړه د چا په ليدلو چې زمونږه سترګې يخې شي او چې کله هغوئي مونږ ته اوګوري چې د هغوئي سترګې هم يخې شي." (شعب الايمان، 312/3، حديث: 3633)

ابرِ رحمت چھا گیا ہے اور سماں ہے نُور نُور
فضلِ رب سے مغفرت کا ہو گیا ہے سامان ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(5) زما اُمَّت ته په رَمَضَانُ المُبارَك کښې 5 خيزونه داسې ورکړے شوي دي کوم چې زما نه مخکښې يو نبي عَلَيهِ السَّلام ته نه دي ميلاؤ شوي: (1) کله چې د رَمَضَانُ المُبارَك وړومبئ شپه شي نو الله پاک هغوئي ته د رحمت په نظر ګوري او کله چې الله پاک چا ته د رحمت په نظر اوګوري نو هغه له به چرې هم عذاب ورنکړي. (2) ماښام کښې د هغوئي د خُلې بوئي (کوم چې د لوږې په وجه وي) الله پاک ته د مشکو د خوشبوئي نه هم زيات غوره دے. (3) فرښتې هره شپه او هره ورځ د هغوئي د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي (4) الله پاک جنت ته حکم فرمائي: "زما د (نيک) بندګانو د پاره ښائسته شه ډير زر به هغوئي د دُنيا د محنت نه پس زما کور او کرم کښې آرام بياموي." (5) کله چې د رَمَضَانُ المُبارَك آخرئ شپه راشي نو الله پاک د ټولو بخښنه کوي. په قوم کښې يو کَس اودريدلو او عرض ئې اوکړو: يـا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم آيا دا لَيلَةُ القَدر ده؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: نه، ته نه ګورې چې مزدور کله د خپل کارونو نه اوزګار شي نو هغوئي ته مزدوري ورکړے کيږي.

(شعب الايمان، 303/3، حديث: 3603)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(6) د رَمَضَانُ المُبارَك په هره شپه آسمانونو کښې د صبح صادِق پورې يوه اعلان کوونکې فرښته دا اعلان کوي: اے نيکۍ غوښتونکيه! اراده پخه کړه او خوشحاله شه، اے د بدۍ اراده لرونکيه! د بدو نه منع شه. شته دے څوک بخښنه غوښتونکے! چې د هغه طلب پوره کړے شي. شته دے څوک توبے والا! چې د هغه توبه قبوله کړے شي. شته دے څوک دُعا غوښتونکے! چې د هغه دُعا قبوله کړے شي. شته څوک سوالګر! چې د هغه سوال پوره کړے شي. الله پاک په رَمَضَانُ المُبارَك کښې هره شپه د روژه ماتې په وخت 60 زره ګنهګاران د دوزخ نه آزادوي او د اختر په ورځ د ټولې مياشتې برابر د ګنهګارانو بخښنه کيږي. (شعب الايمان، 304/3، حديث: 3606)

واسطہ رمضان کا یارب ہمیں تُو بخش دے　　نیکیوں کا اپنے پلّے کچھ نہیں سامان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(7) په رَمَضَانُ المُبارَك کښې (په خپل کور والؤ) فراخه خرچ کوئ ځکه چې په رَمَضَانُ المُبارَك کښې خرچ کول د الله پاک په لاره کښې د خرچ کولو په شان دي.

(فضائل شهر رمضان مع موسوعة ابن ابي الدنيا، 368/1، حديث: 24)

بھائیو بہنو! گناہوں سے سبھی توبہ کرو　　خُلد کے دَر کھل گئے ہیں داخلہ آسان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(8) روژه او قرآن به د بنده د پاره د قيامت په ورځ شفاعت کوي. روژه به عرض کوي: "اے کريم ربه! ما د خوراک او خواهشاتو نه دا په ورځ کښې منع کړے وو، زما شفاعت د ده په حق کښې قبول کړه." قرآن به وائي: "ما د شپې دا د خوب نه منع کړے وو، زما شفاعت د ده د پاره قبول کړه." بس د دواړو شفاعت به قبول شي. (مسند امام احمد، 586/2، حديث: 6637)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(9) چا چې په مَکّه مکرمه کښې د روژې مياشت بياموندہ او روژه ئې اونيوله او د شپې چې څومره

کيدے شو قيام ئې اوکړو نو الله پاک به د هغه د پاره د نورو ځايونو د يو لاک د روژو ثواب اوليکي او هره ورځ به د يو غلام آزادولو ثواب او هره شپه به د يو غلام آزادولو ثواب او هره ورځ به په جهاد کښې په اَس باندې د سوريدلو ثواب او په هره ورځ کښې نيکي او هره شپه کښې نيکي اوليکي.

(ابنِ ماجه، 3/523، حديث: 3117)

يا الٰہی تُو مدینے میں کبھی رمضاں دکھا مدتوں سے دل میں یہ عطار کے ارمان ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(10) بے شکه الله پاک د رَمَضَانُ المُبارَك روژې په تاسو فرض کړې او ما ستاسو د پاره د رَمَضَان قيام سنت اوګرځولو ځکه چې کوم کَس په رَمَضَانُ المُبارَك کښې روژې اونيسي او د ايمان او د ثواب حاصلولو په نيت قيام اوکړي (يعني تراويح اوکړي) نو هغه د خپلو ګناهونو نه داسې اووتلو څنګه چې د پيدا کيدو په ورځ هغه خپلې مور زيږولے وو. (نَسائی ص 369 حديث 2207)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(11) د انسان د هر نيك كار بدله د لسو نه ووه سوه چنده پورې ورکولے شي، الله پاک فرمائيلي دي: اِلَّا الصَّوْمَ فَاِنَّهٗ لِیْ وَاَنَا اَجْزِیْ بِهٖ. يعني د روژې نه علاوه چې روژه زما د پاره ده او زه به د دې جزا په خپله ورکووم. الله پاک نور ارشاد فرمائي: بنده خپل خواهش او خوراک زما په وجه پريږدي. د روژه نيوونکي د پاره دوه خوشحالۍ دي، يوه د روژه ماتي په وخت او بله د خپل ربّ سره د ملاقات په وخت، د روژه دار د خُلې بوئي الله پاک ته د مشکو نه زيات پاک دے.

(مسلم، ص580، حديث: 1151)

روزہ دارو! جُھوم جاؤ کیوں کہ دیدارِ خُدا خُلد میں ہوگا تمہیں یہ وعدۂ رحمن ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(12) روژه ډال دے او چې کله د چا د روژې ورځ وي نو هغه دې سپکې خبرې نه کوي او نه دې

چغي وهي، او كه بل څوک هغه ته كنزل كوي يا جګړه كوي نو اووائي: زما روژه ده.

(بخاری، 624/1، حدیث: 1894)

بے جا بک بک کی خصلت بھی ٹل جائے گی — مَدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

خوش خدا ہو گا بن جائے گی آخرت — مَدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

تُوْبُوْا اِلَی اللّٰه! اَسْتَغْفِرُ اللّٰه!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(13) چا چې د الله پاک د رضا د پاره يوه ورځ روژه اونيوله، الله پاک به هغه د دوزخ نه دومره لرې كړي څنګه چې يو كارغه د خپل وړوكوالي نه الوتل شروع كړي تر دې پورې چې بوډا شي او مړ شي. (مسندِابی یعلیٰ، 383/1، حدیث: 917)

عاصیوں کی مغفرت کا لے کر آیا ہے پیام — جُھوم جاؤ مجرمو! رمضاں مہِ غفران ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(14) چا چې د روژې د مياشتې يوه روژه هم په خاموشۍ او سكون سره اونيوله، د هغه د پاره به په جنت كښې يو كور د شنو زَبرجد يا د سرو ياقوتو جوړ كړے شي. (معجم اوسط، 379/1، حدیث: 1768)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(15) د هر څيز د پاره زكوٰة دے او د بدن د پاره زكوٰة روژه ده او روژه نيم صبر دے.

(ابنِ ماجه، 347/2، حدیث: 1745)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(16) د روژه نيوونكي اوده كيدل عبادت، د هغه خاموشي تسبيح كول او د هغه دعا قبوله او د هغه عمل قبول شوے دے. (شعب الایمان، 415/3، حدیث: 3938)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(17) الله پاک په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې هره ورځ د روژه ماتي په وخت لس لاكه داسې ګنهګاران د

دوزخ نه آزادوي په چا چې د ګناهونو په وجه دوزخ واجب شوے وي، د جمعې په شپه او د جمعې په ورځ (يعني د زيارت په ورځ د لمَر پريوتو نه د جُمعے په ورځ د لمَر پريوتو پورې) په هر هر ساعت کښې داسې لس لس لاکه ګنهګاران د دوزخ نه آزاديږي کوم چې د عذاب حقدار ګرځيدلي وي.

(مسند الفردوس، 320/3، حديث: 4960)

بھائیو بہنو ! گناہوں سے سبھی توبہ کرو　　خُلد کے در کھل گئے ہیں داخلہ آسان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(18) کوم بنده چې د روژې په حالت کښې سحر کوي، د هغه د پاره د آسمان دروازې بيرته کيږي او د هغه اعضاء تسبيح کوي او د آسمانِ دنيا (فرښتې) د هغه د پاره د لمر پريوتو پورې د بخښنې دعا کوي. که چرې هغه يو يا دوه رکعته اوکړي نو دا په آسمانونو کښې د هغه د پاره نور جوړ شي او حور عين (يعني غټو سترګو والا حورو) کښې د هغه بيبياني وائي: اے الله پاکه! ته دا زمونږ خوا له را اوليږې، مونږ د دوئي د ديدن ډير شوق لرو. او که هغه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ يا سُبْحَانَ اللهِ يا اَللهُ اَکْبَرُ وائي نو اويا زره فرښتې د هغه ثواب د لمَر پريوتو پورې ليکي.　　(شعب الايمان، 299/3، حديث: 3591)

ہر خطا تو درگزر کر بے کس ومجبور کی　　یا الٰہی مغفرت کر بے کس ومجبور کی

نامہ بدکار میں حُسنِ عمل کوئی نہیں　　لاج رکھنا روزِ محشر بے کس ومجبور کی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(19) خوک چې د حلالې ګټې نه په رَمَضان کښې په چا روژه ماته کړي، د رَمَضان په ټولو شپو کښې فرښتې په هغه درود ليږي او په شبِ قدر کښې جبريل (عَلَيْهِ السَّلَام) د هغه سره مُصَافَحه کوي او د چا سره چې جبريل (عَلَيْهِ السَّلَام) مُصَافَحَه اوکړي د هغه په سترګو کښې اوښکې راځي او د هغه زړه نرم شي.

(جمع الجوامع، 217/7، حديث: 22534)

یا خدا میری مغفرت فرما　　باغِ فردوس مرحمت فرما

ہو نہ عطار حشر میں رُسوا بے حساب اِس کی مغفرت فرما

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(20) چې څوک بدې خبرې کول او په هغې باندې عمل کول پرېږ نه دي نو الله پاک ته د هغه هيڅ حاجت نشته چې خوراک څښاک پرېږدي. (بخاری، 628/1، حديث: 1903)

حضرت علامه قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: د بدې خبرې نه مراد هر ناجائزه خبرې اترې دي لکه دروغ، بهتان، غيبت، تهمت، کنزل، ردې بدې وئيل وغيره د کومو نه چې بچ کيدل ضروري دي. (مِرقاةالمفاتيح، 491/4) يو بل ځائے د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "صرف خوراک څښاک نه کول روژه نه ده بلکه روژه خو دا ده چې د لَغو او فضول (يعني هغه خبرې کومو کښې چې نافرماني وي د هغې) خبرو نه ځان اوساتلے شي. (مستدرک، 67/2، حديث: 1611)

بک بک کی کہیں لَت نہ جہنّم میں گرا دے اللہ زباں کا ہو عطا قُفلِ مدینہ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(21) د روژې په حالت کښې چې څوک وفات شو، الله پاک به هغه ته تر قيامته پورې د روژو ثواب ورکوي. (مسند الفردوس، 504/3، حديث: 5557)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(22) په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د الله پاک ذکر کوونکے بخښلے کيږي او په دې مياشت کښې د الله پاك نه غوښتلو والا نه محرومه کيږي. (شعب الايمان، 311/3، حديث: 3627)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(23) دا رَمَضَانُ المُبارَك تاسو ته راغلې ده، په دې کښې د جنت دروازې بيرته کيږي، د دوزخ دروازے بنديږي او شيطانان قيد کړے کيږي. محرومه دے هغه ګس چا چې رَمَضَانُ المُبارَك بيامونده او د ده بخښنه اونه شوه چې د ده په رَمَضَانُ المُبارَك کښې بخښنه اونه شي نو کله به کيږي!

(معجم اوسط، 366/5، حديث: 7627)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(24) پينځه لمونځونه او جُمعه بلې جُمعې پورې او د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت راروان رَمَضَانُ المُبارَك پورې د ګناهونو كفاره ده ترڅو پورې چې د غټو ګناهونو نه بچ شي. (مسلم، ص144، حديث: 233)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(25) كه بندګانو ته معلوم شي چې روژه څه ده نو زما اُمَّت به ارمان كولو چې كاش! ټول كال روژه وے.

(صحيح ابنِ خُزيمه، 190/3، حديث: 1886)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(26) چا چې د رَمَضَانُ المُبارَك د يوې ورځې روژه بغير د رُخصت او بغير د مرض نه ماته كړه (يعني اوئې نه نيوله) نو د ټولې زمانې روژې هم د هغې قضا نه شي كيدے كه وروستو ئې اونيسي نو هم.

(ترمذی، 175/2، حديث: 723)

يعني كوم فضيلت چې د رَمَضَانُ المُبارَك د روژې نيولو وو اوس ئې هيڅ كله نشي موندے.

(بهارِ شريعت، 985/1 ملخصاً)

دوجہاں کی نعمتیں ملتی ہیں روزہ دار کو　جو نہیں رکھتا ہے روزہ وہ بڑا نادان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(27) زه اوده ووم نو خوب كښې دوه كسان زما خوا له راغلل او زه ئې يو سخت غر ته بوتلم، زه چې كله د غر نيمې حصې ته اورسيدم نو هلته ډير سخت آوازونه راتلل، ما اووئيل: "دا څنګه آوازونه دي؟" نو ما ته اووئيل شو چې دا د دوزخيانو آوازونه دي. بيا زه لږ مخكښې بوتلے شوم نو زه د داسې كسانو په خوا تير شوم كوم چې هغوئې د هغوئې د ګيټو [يعني پړكو] په رګونو كښې ترلې (اُلټا) زوړند كړے شوي وو او د هغوئې جامنې شلولے شوې وې او وينې ترې بهيدلې، ما پوښتنه اوكړه:"دا څوک دي"؟ ما ته اووئيل شو چې "دي خلقو به روژه ماتوله د هغې نه مخكښې چې د روژې ماتول حلال شي. [يعني لمَر پريوتلو نه

مخکښې به ئې روژه ماتوله] (صحیح ابن حبّان، 9/286، حدیث: 7448)

بے نماز ی رہیں کچھ نہ روزے رکھیں　　اِن کو کس نے کہا عاشقانِ رسول؟

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(28) ”زما اُمت به ذلیله او رسوا نشي تر هغه وخته پورې چې هغوئ د روژې د میاشتې حق ادا کړي.“ عرض اوکړے شو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّم د روژې حق ضائع کولو کښې د هغوئ ذلیل او رسوا کیدل څه دي؟ اوئې فرمائیل: ”په دې میاشت کښې د هغوئ حرام کارونه کول.“ بیا ئې اوفرمائیل: ”چا چې په دې میاشت کښې زنا اوکړه یا ئې شراب اوڅښل نو د راروانے روژې پورې الله پاک او خومره آسماني فرښتې دي، ټولې په هغه لعنت وائي، که چرې دا کس د بلې روژې د میاشتې راتلو نه مخکښې مړ شو نو د ده سره به داسې هیڅ یوه نیکي نه وي چې د دوزخ د اور نه ئې بچ کړي. پس تاسو د روژې په باره کښې اُویریږئ ځنګه چې په دې میاشت کښې د نورو میاشتو په مُقابَله کښې نیکۍ زیاتولے شي دغه شان مُعامَله د ګناهونو هم ده. (معجم صغیر، 1/248)

تُوبُوا اِلَى الله!　　اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د پیشمنۍ مُتَعَلِّق 4 فرامین مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّم

(29) د روژې نیولو د پاره پیشمنے اوکړئ او قوت حاصل کړئ او د ورځې (یعني د غرمې) په وخت آرام (یعني قیلوله) اوکړئ او د شپې د عبادت د پاره طاقت حاصل کړئ. (ابن ماجه، 2/321، حدیث: 1693)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(30) پیشمنۍ پوره پوره برکت دے، تاسو ئې مه پریږدئ که صرف د اوبو یو ګُوټ ولې اُو نه څښئ. بیشکه الله پاک او د هغه فرښتې رحمت لیږي په پیشمنۍ کوونکو باندې. (مسند امام احمد، 4/88، حدیث: 11396)

صَــلُّـوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(31) درې ګسان چې خومره هم اوخوري د هغوي سره به حساب نه کيږي شرط دا دے چې خوراک حلال وي (1) روژه نيوونکے د روژه ماتي په وخت (2) پيشمنے کوونکے (3) مجاهد کوم چې د الله پاک په لار کښې د اسلام د سرحد حفاظت کوي. (معجم کبير، 285/11، حديث: 12012)

صَــلُّـوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمان

د مسلمانانو دويم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به فرمائيل: هغه مياشتې ته مرحبا کومه چې مونږه پاك کولو والا ده. ټوله روژه د خير نه ډکه ده. که د ورځې روژه وي او که د شپې قيام، په دې مياشت کښې خرچ کول جهاد کښې د خرچ کولو درجه لري.

(تنبيه الغافلين، ص 177)

صَــلُّـوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا فرامين

(1) چې کله به د رَمَضَانُ الْمُبارَك مياشت راتله نو د نبي کريم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رنګ مبارک به بدل شو او ډير لمُونځ به ئې کولو او ډيرې دعاګانې به ئې غوښتلې. (شعب الايمان، 310/3، حديث: 3625)

تجھ پہ صدقے جاؤں رمضاں تُو عظیم الشان ہے　　تجھ میں نازل حق تعالیٰ نے کیا قرآن ہے

صَــلُّـوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(2) چې کله به د رَمَضَانُ الْمُبارَك مياشت راغله نو نبي کريم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به شل ورځې لمُونځ او خوب يو ځائے کول [يعني خوب به ئې هم کولو او لمونځ هُم] او چې کله به آخرئ عشره شوه نو د الله پاک د عبادت د پاره به ئې ملا اوتړله. (مسند امام احمد، 338/9، حديث: 24444)

عبادت میں تلاوت میں ریاضت میں لگادے دل
مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت عبد الله ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا فرامين

(1) رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو خلقو نه زيات سخي وو او په رَمَضَانُ المُبارَك كښې به هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (خاص طور) ډير زيات سخاوت كولو. جبرئيل امين عَلَیْہِ السَّلام به د رَمَضَانُ المُبارَك په هره شپه كښې د ملاقات د پاره حاضريدلو او رسول كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغوئي سره د قرآنِ كريم دور فرمائيلو. كله به هم چې جبرائيل عَلَیْہِ السَّلام د رسول كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت كښې راتلو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د تيزې چليدونكې هوا نه هم زيات د خير په معامله كښې سخاوت كولو. (بخاری، 9/1، حدیث: 6)

ہاتھ اُٹھا کر ایک ٹکڑا اے کریم
ہیں سخی کے مال میں حقدار ہم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(2) كله چې به د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت راتلله نو سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هر قيدي آزادولو او هر سوالګر ته به ئې وركولو. (شعب الایمان، 311/3، حدیث: 3629)

## آيا د آقا په حياتِ ظاهري كښې به قيديان وو؟

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حكيمُ الأُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په بيان شوي د حديث پاک حصه: "هر قيدي به ئې آزادولو" لاندې په مرآة جلد3 صفحه 142 كښې فرمائي: حق دا دے چې دلته د قيدي نه مراد هغه كَس دے كوم چې په حقُ الله يا حقُ العبد (يعني د بنده په حق كښې ګير وي او د آزادولو نه مراد د هغه حق وركول يا په بل چا وركول دي. (مِرآةُ المَناجيح، ج3، ص142)

## د حضرت کعبُ الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمان

د قيامت په ورځ به يو غږ کوونکے داسې غږ کوي، هر کروندہ کر (يعني عمل کوونکي) ته به د هغه د پټي (يعني د عمل) برابر اجر ورکولے شي سِوا د قُرآن والؤ (يعني عالِمِ قُرآن) او روژه دارو نه، چې دوئي ته به ډير زيات او بے حسابه اجر ورکړے شي. (شعب الایمان، 413/3، حدیث: 3928)

روزہ دارو! جُھوم جاؤ کیونکہ دیدارِ خدا　　خُلد میں ہوگا تمھیں یہ وعدہ رحمٰن ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت ابراهيم نخعي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمان

حضرت ابراهيم نخعي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د رَمَضَانُ المُبارَك په مياشت کښې يوه ورځ روژه نيول د زرو ورځو د روژو نيولو نه افضل ده او د رَمَضَانُ المُبارَك په مياشت کښې يو ځل تسبيح کول (يعني سُبۡحَانَ الله وئيل) د دې مياشت نه علاوه زر ځله د تسبيح کولو (سُبۡحَانَ الله وئيلو) نه افضل دي او په رَمَضَانُ المُبارَك کښې يو رکعت کول د رَمَضَان نه علاوه د زرو رکعتونو نه افضل دي.

(تفسیر در منثور، 454/1)

## د داتا گنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمان

د روژې حقيقت "اودريدل" دي او د اودريدو ډير شرطونه دي د مثال په طور معده د خوراک څښاک نه حصارول، سترګې د بد نظرئ نه منع ساتل، غوږونه د غيبت اوريدو، ژبه د فضول او فتنې خوروونکو خبرو کولو نه او بدن د الله پاک د حکم د مخالفت نه اودرول روژه ده. کله چې بنده د دې شرطونو پيروي اوکړي نو په حقيقت کښې به هغه روژه نيوونکے شي. (کشف المحجوب، ص353، 354)

واسطہ رمضان کا یارب ہمیں تو بخش دے　　نیکیوں کا اپنے پلے کچھ نہیں سامان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د روژې درې درجې

د روژې درې درجې (1) د عوامو روژه (2) د خواصو روژه (3) د اَخَصُّ الخَواصو روژه.

**د عوامو روژه:** د روژې لُغوي معنیٰ ده "منع کيدل" د شريعت په اِصطلاح کښې د صبا صادق نه د لمر پريوتو پورې قَصدًا [يعني د روژے د نِيَّت سره] د خوراک څښاک او جماع نه منع اوسيدو ته روژه وائي او دا د عوامو يعني د عامو خلقو روژه ده.

**د خواصو روژه:** د خوراک څښاک او جماع نه منع اوسيدلو سره د بدن ټول اَعضا د ګناهونو نه "منع ساتل" د خواصو يعني د خاصو خلقو روژه ده. (بهارِ شريعت، 966/1، حصه:5)

**د آخص الخواصو روژه:** خپل ځان د نورو ټولو کارونو نه منع ساتل او صرف او صرف د الله پاک طرف ته مُتَوَجِّه کيدل، دا د اَخصُّ الخواصو يعني د خاص الخاص خلقو روژه ده.

دیجئے قفلِ مدینہ دیجئے کیجئے رحمت اے نانائے حُسین
ہر وَلی کا واسطہ عطار پر کیجئے رحمت اے نانائے حُسین

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمان

د دې مبارکې مياشتې ټول څلور نومونه دي (1) ماهِ رَمَضَان (2) ماهِ صَبر (3) ماه مُؤَاسات او (4) او د رزق د فراختيا مياشت. نور فرمائي: روژه صبر دے د کومې جَزاء چې رَب ده او هغه په دې مياشت کښې نيول کيږې ځکه دې ته ماهِ صِبر وائي. د مُؤَاسات معنیٰ ده خير ښيګړه کول. په دې مياشت کښې د ټولو مسلمانانو سره او خاص طور نزدې خپلوانو سره ښيګړه کولو کښې ډير ثواب دے ځکه دې ته ماهِ مُؤَاسات وائي. په دې [مياشت] کښې د رِزق فراخي هم وي چې غريبان پکښې هم نعمتونه خوري، ځکه د دې نوم د رِزق فراختيا مياشت هم دے. (تفسيرِ نعيمي،2/ 208)

ہر گھڑی رحمت بھری ہے ہر طرف ہیں برکتیں　　ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په علاقے کښې كيدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيَّتونو سره تول شپه تيروئ 🌸 د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره مَدَنِي قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او 🌸 هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَنِي إنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَنِي مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل علاقے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَنِي مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَنِي قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com